# قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې وختونه را لنډ شي

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې وختونه را لنډ شي، نو کال به د يوې مياشتې په شان وي، او مياشت به د جمعې په شان وي، جمعه به د يوې ورځې په شان وي، او يوه ورځ به د يو ساعت په شان وي" او ساعت به داسې وي لکه اور چې د کجوري پاڼې سوځوي».

[صحيح دی] [احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت له نښو څخه يوه د وخت رانږدې کېدل دي. نو کال به لکه د مياشت په څېر تېريږي. او مياشت به داسې تېريږي لکه اونۍ چې تېريږي. او جمعه به داسې تېريږی لکه څرنګه چې ورځ تېريږي. او ورځ به داسې تېريږي لکه څرنګه چې يو ساعت تېريږي. او يو ساعت به داسې په تېزۍ سره تېريږي لکه څرنګه چې اور د خرما د ونې پاڼې سوځوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65027